د تاریخ دوی پاڼې

(۱)

# امیر حمزه د سیستان پهلوان

دغه سیستان چې اوس وچ ریگستانونه یا د اوبو ډنډونه دي یو وخت د ایشیا د مدنیت لوی مرکز او د مشهورو سیاسي، علمي او فکري حرکاتو زېږنتون ؤ، دلته لوی لوی ښارونه ودان وه، لوی لوی خلک پکښې پیدا کېدل، او د سیستان د عظمت دغه دوره دوه درې زره کاله د مغولو او تېمور تر تاړاکو پورې اوږده سوه.

په اسلامي دوره کښې چې عربي فاتحان دغې سیمې ته راورسېدل ددې ځای لوی پایتخت زرنگ ؤ، چې عربو زرنج وباله، او وروسته د خراسان د آزادۍ لپاره دلته ډېر لوی لوی حرکتونه پیدا سول. او یو ددغو حرکاتو څخه د حمزه سیستاني خروج ؤ، چې د عربو مؤرخانو دی خارجي بللی دئ، او د هجرت په ۱۸۰ ه کال ئې خپل مهم ملي او فکري حرکت شورو کړئ ؤ. حمزه د عبدالله زوی د زوطهماسپ له نسله د سیستان په رون او چول کښې پیدا سو، دی لوی او پوه او دلاور

سړی ؤ، دده د پلار اصلي نوم د طبری په قول اتـرک = آذرک شـاری ؤ، چي د غرستان د شارانو خاندان ته به منسوب وي.

حمزه په ۱۸۰ ه په سیستان کښـي د عباسـيانو حکمـران وواژه، او د حج په سفر رهي سو، ده په عربي سيمو کښي د خوارجو سـره آشـنايي پيدا کړه او چي بيرته راغـئ، نـو ټولـو خـارجي خلکـو چـي د خلـف خارجي څخه پاته سوي وه، تر پنځو زرو تنو پوري دده سره بيعت وکی او په امارت ئې ومانه.

د عباسيانو د خراسان حکمران علی بن عیسی خپـل زوی عيسـی د حمزه مقابلې ته راواستاوه مگر حمزه اوس غښتلي ملگـري درلـوده، او په ۱۸۲ ه ئې عيسی خراسان ته وتښتاوه، او د زرنج ښار ئې ونيو، او ټول سيستانيان ئې سره متحد کړل، دوی ته ئې ماليات او خراج وبخښـل او به ۱۸۵ ه تر بادغيس او پوشنگه پوري پـر مـخ ولاړ، او د هـرات عربـي حکمران عمرويه بن يزيد ئې په جنګ کښي وواژه.

تر دې وروسته حمزه دوني قوي سو، او دوني ملگري ئې وموندل چي ټول خراسان ئې د عباسي دربار کاردارانو ته سـور اور کـئ، او پـه هر ځای کښي دده جنگونه د عباسي لښکرو سره جـاري وه، او د تـاريخ سيستان په قول د خراسان او سيستان او کرمان ماليات د بغداد خزانې ته نه رسېدل، او حمزه دېرش زره غښتلي ملگري درلودل، چي هر غونډ ئې پنځه سويځ ؤ، او دې شپېتو غونـډو پـه خراسـان او سيسـتان کښـي خورا تکړه مقابله کوله، او د خلافت عباسي لويو سپه سالارانو د حمـزه په مقابل کښي یا ماته کړې وه، يا ئې سرونه بايللي وه. دلتـه نـو هـارون الرشيد د بغداد خليفه پوه سو چـي د حمـزه مقابلـه بايـد پـه خپلـه دی ؤکي، نو په ۱۸۹ ه کال ری (اوسني تهران) ته راغئ، اوخپـل حکمـران علي ئې مصادره کئ، او هغه مالونه چي دې حکمران په خراسان کښي

راټول کړي وه پر یو نیم زرو اوښانو باندي د هارون الرشید حضور ته ورښېدل. او دی ځلور کاله دلته د حمزه مقابلې ته ناست وُ، څو چې په ۱۹۳ ه په طوس کښي مړ او همدلې ښخ سو.

هارون ډېر کوښښ وکړ، چي حمزه په مال او جاه و جلال راضي او د ځان مطیع کي او ده ته ئې یو مفصل خط وکیښ، او دده ټول گذشته اعمال ئې ور وبخښل، او هر څه چي ده په دغو جنگو کښي گټلي وه هغه ئې ده ته د بخښلو وعده ورکړه، مگر حمزه ددې فرمان په مقابل کښي ځان امیرالمؤمنین وباله، او دا ئې ورته ولیکل چي : "زه د دنیاوي جاه وجلال یا شاهي لپاره ستا سره نزاع نه کوم، مگر ستا د کاردارانو اعمال داسي دي چي خلک ئې تر پزې رارسولي دي، څو سره د دغو خونریزیو او د مالونو د اباحت او فواحشو چي ستا کارداران ئې لري، ما خلکو ته اجازت نه دئ ورکړئ چي دوی په بغاوت ابتداء وکي او ښايي چي ستا د کاردارانو بد اعمال به په خراسان او سیستان او کرامان کښي له تا څخه پټ نه وي.

زه له تا څخه څه نه غواړم، مگر ستا کارداران له خلکو څخه په ناجائز ډول پیسې او مالونه اخلي، او په ناروا ځایو کښې خرڅوي، نو ما له خدایه سره عهد کړئ دئ، چي خلک به د خدای لاري ته رابولم، که څه هم زما سرپکښي ولاړ سي."

د حمزه له دې جوابه ښکاري چي دی کلک او غښتلئ او دلاور سړی وُ، او د ظلم او ناروا د دفع کولو لپاره ئې قیام کړئ وُ، او کله چي هارون الرشید مړ سو، نو ده خپل پنځه زره سپاره وگمارل چي په خراسان او سیستان کښي وگرزي او د مظلومانو څخه د ظالمانو لاسونه لنډ کي، مگر بې سببه جنگ او خونریزي هم ونه کي. د حمزه د اقتدار سیمه له کرمانه تر سنده پوري او شمالاً د آمو غاړي وې، د

افغانستان اوسني ښارونه اکثره دده په لاس کښې وه، هرات، زرنج، بست، نشاپور ئې لوی مرکزونه وه، او غزني، کابل ئې هم نیولي وه، او د تاریخ سیستان په قول ئې په گردېز کښې د خپلو پېروانو لپاره یوه ټینگه کلا جوړه کړې وه، چي د حدود العالم د مؤلف په قول تر ۳۷۲ هـ پوري لا هم په گردېز کښې دده پېروان موجود وه، او د حمزه عقاید ئې د کتاب او سنت په پېروي سره خپرول، او د دوی عزم خورا کلک او نه ماتېدونکی ؤ، ځکه چي په وارو وارو ئې فتح کړی او بریالی سوی دی، مگر دې بري دوی مغروره کړي نه دي، او که ئې شکستونه خوړلي دي خپله حوصله ئې نه ده بایللې، او بیا ئې د عمل میدان ته ځانونه تیار کړي دي.

د حمزه د پېروانو څخه یو شاعر په عربي څو بیتونه ویلي وه، چي د تاریخ سیستان مؤلف ئې رانقلوي، او له دغو بیتو څخه د حمزه د پېروانو کلکه اراده او د دوی د سیاسي مسلک اصالت ښکاري، دا شاعر وایي چي هارون او دده ملگرو خیال کاوه چي موږ به حق په باطل خرڅ کو، ده موږ ته لیک راواستاوه چي و مو بېروي، مگر حمزه داسي سړی نه دئ، چي اوسنی باطل پر آینده حق باندي غوره کي، دی یو داسي امام دئ، چي هر کوږ سمي لاري ته راوړي، او پر دغه خپل پیمان باندي ټینگ ولاړ دئ.

د حمزه اعمال او شخصیت د تاریخ په رڼا کښي د کتني او ستاینې وړ دئ، ځکه چي ده بې سببه د دنیاوي غرضونو له پاره جنگ نه کاوه، او کله چي هارون الرشید مړ سو، او دده لښکر هم ولاړل، نو حمزه هم خپل لښکر د سند او هند خواته د اسلام تبلیغ ته وگمارل، او فقط پنځه زره سپاره ئې په خراسان کښي ددې لپاره پرېښوول چي د ظالمانو د ظلم لاسونه کوتاه کي. داسي ښکار چي حمزه خو یو دلاور

او جنګي سپه سالار ؤ مګر د کتاب او سنت هم سخت تابع ؤ، او دا ئې نه غوښتل چې حاکمان له مظلومو خلکو څخه اضافه ستانې وکـي، يـا مظلوم خلك د ظالمانو تر کوتك لاندي په عذاب ژوند تېر کي. دده دا عقيده وه چې بايد په هره سيمه کښې د مسلمانانو د حفاظـت لپاره يـو اميـد وي، او د مظلومـانو حمايـت وکـي، نـو ځکـه ئـې ځـان هـم اميرالمؤمنين باله، او پـه سيسـتان او خراسان کښـې ئـې يـو راز سـيار حکومت جوړ کړئ ؤ، او په يـوه ځـاى کښـې نـه کښېنوسـت، او هـر ځاى ته به ئې د مظلومانو حمايت ته ځان رساوه، او دفاعي جهاد ئې پر ځان فرض ګاڼه.

د امير حمزه د جنګونو او هنګامو داستانونه د خلکو په اذهانو کښې پاته سول، او د هغو څخه ئې عجيبي پهلواني قصې جـوړي کـړې، او دى ئې لکه رستم يو خارق العاده پهلوان وګاڼه، او وروستنيو مولفانو پـه دري ژبه دغه داستانونه وليکل، چې دى ئې د حضرت رسـول (ص) لـه اکا حضرت حمزه (رض) بن عبدالمطلب سره خلط او ګډ کـئ او دغـه عجيب داستانونه ئې تر اوسه هم په خلکو کښې شهرت لري.

د ملل او نحل علماء هم د حمزه دغه فرقه په خاصه توګـه پېژنـي او شهرستاني مشهور د عقايدو او فرقو عالم په خوارجـو کښـې يـوه ډلـه د "حمزيه" په نامه راښيي، چې دوى خـاص عقايـد درلـودل، شهرسـتاني حمزه د سيستان د اوق له خلکو څخه ګني، چې د حصين بـن رقـة لـه ملګرو څخه ؤ، او د خلك خـارجي سـره ئـې پـه ځينـو عقايـدو کښـې مخالفت درلود، ځکه چې حمزيه فرقې د دوو امامو وجود په يوه وخت کښې جايز ګاڼه، او د خير او شر په مسئله کښې هم دا دوې فرقې سـره مخالفي وې. د حمزه د وفات تاريخ طبرى نه دئ معلوم کـړئ، د (۱۸۵ ه) په حوادثو کښې وايي :

" وفیها عاث حمزه الشاري ببادغیس" عاث پـه عربـي د پرېشـان سـو معنی لري چي ځینو مؤرخانو به دغه کلمه مات یعني مړ سـو ویلـې، او دده د مرګ کال ئې دغه بللئ دئ، لکه یعقـوبي چـي پـه خپـل تـاریخ کښي لیکي : چي د علی بن عیسی په حکمراني کښي حمزه په بادغیس کښي حرکت وکئ مګر علی دی تر کابله تعقیب او مړ کئ. نوکه موږ د یعقوبي دغه قول ومنو، باید چي حمزه د ۱۸۰ تر ۱۹۰ پوري چي د علی د خراسان د حکمرانی دوره ده وژل سوئ وي.

مګر ابن اثیر وایي : چي په ۱۹۲ ه حمـزه د عبـدالرحمن نشـاپوري سره جنګ وکئ، او په ۱۹۴ ه په هرات کښي وُ، او لکه چي وویل سـوه هارون الرشید په ۱۹۳ هـ ده تـه خپـل مشـهور لیـک اسـتولئ وُ، نـو د یعقوبي قول په دغو اسنادو ضعیف دئ.

عبدالحی ګردیزی پخپل زین الاخبار کښي وایي : چـي حمـزه پـه ۲۱۳ ه کال په هرات کښي وژل سوئ دئ، او دغـه قـول د سیسـتان د تاریخ مؤلف هـم تاییـدوي : " و حمـزه خـارجي روز ادینـه دوازده روز ګذشته از جمادی الاخری سنه ثلث عشر ومائتی ببهیش فرمان یافت."

له دې بیانه داسي ښکاري چي حمزه وژل سوئ نه دئ بلکي پخپله مړ سوئ دئ مګر د نهیش کلمه د تاریخ سیستان په خطي واحده نسـخه کښي واضحه نـه ده، او ښـایي چـي نهـیش وي چـي نبـش تـر اوسـه د کندهار او زمین داور تر منځ د غور په جنوبي غرو کښي واقع دئ.

د حمزه تر مرګ وروسته دده پیروانو لـه ابـو اسـحاق ابـراهیم بـن عمیدالجاشني سره بیعت وکئ چي خورا ښه سړی وُ، مګر حمزه خپلـو پیروانو ته وصیت کړئ وُ چي تهلیل کوونکي مسلمانان به نه ازاروئ، او ځکه چي دده پیروانو دغه وصیت پر ځای نه کئ، نو جاشني لـه امارتـه استعفاء وکړه، او دوی په (۲۱۵ ه) کال ابو عوف بن عبدالرحمن خپـل

امیر کیږ چي دغـه سړی د سیسـتان د کـرتگ د کلـي ؤ. پـه دې ډول حمزه لومړنی سیستاني قایـد او مفکـر دئ، چـي پـه دینـي دلایلـو او د اسلام او کتاب او سنت د حفاظت په نامه د عباسي دربار په مقابل کښي درېدلئ، او د افغانستان د خلکو د حقوقو پـه حمایـت کښـې تـر خپلـه مرگه جهاد کړئ دئ، او د یوه داسي ملـي حرکـت اسـاس ئـې ایښـئ دئ، چي وروسته ددې ځای خلکو د همدغه حرکـت پـه دوام کښـي خپل ملي استقلال موندلئ دئ.